# دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

### فوق العاده ګڼه

• دکار دمراقبت (پلټنې) اولارښوونې مقرره

• د اوسپنې پټلۍ قانون

• د افسرانو، بریدملانو اوساتنمنانو دذاتي چاروقانون دځینو مادوتعدیل اوایزاد

دخپرېدونېټه: د ۱۳۹۷ هـ.ش کال دتلې دمیاشتې (۱۴)
پرله پسې نمبر: (۱۳۱۲)

• مقررۀ مراقبت (تفتیش) ورهنمایی کار

• قانون خط آهن

• تعدیل وایزاد برخی ازموادقانون امورذاتی افسران، بریدملان وساتنمنان

تاریخ نشر: (۱۴) میزان سال ۱۳۹۷ هـ.ش
نمبر مسلسل: (۱۳۱۲)

د امتیـــاز خاوند: د عدلیـــې وزارت
مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"
۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷
د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸
مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸
مهتمـــم: محمد جان ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰
وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۲٦،۳۲) افغانی
تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد
تعداد صفحات به شمول پشتی: (۹۴) صفحه
مطبعه: بهیـــر
آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)، کابل

## د کار د مراقبت (پلټنې) او لارښوونې د مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس حکم

ګڼه: (۱۱۵۳)

نېټه: ۱۵/ ۵/ ۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د کار د مراقبت (پلټنې) او لارښوونې مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۳۹۷/۲/۹ نېټې په (۳) ګڼه غونډه کې د (۵) فصلونو او (۲۸) مادو په دننه کې تصویب شوې ده، منظوروم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم دې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د یادې مقررې له متن سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررهٔ مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار

شماره: (۱۱۵۳)

تاریخ: ۱۳۹۷/۵/۱۵

**مادهٔ اول:**

مقررهٔ مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار را که در جلسهٔ شماره (۳) مؤرخ ۱۳۹۷/۲/۹ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۵) فصل و (۲۸) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این حکم همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررهٔ مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د کار د مراقبت (پلټنې) او لارښوونې د مقررې د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

ګڼه: (۳)

نېټه: ۹/ ۲/ ۱۳۹۷

د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې د کار د مراقبت (پلټنې) او لارښوونې د مقررې طرحه د ۱۳۹۷/۲/۹ نېټې په (۳) ګڼه خپلې غونډه کې د (۵) فصلونو او (۲۸) مادو په دننه کې تصويب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح مقررهٔ مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار

شماره: (۳)

تاریخ: ۱۳۹۷/۲/۹

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان، طرح مقررهٔ مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار را در جلسهٔ شماره (۳) مؤرخ ۱۳۹۷/۲/۹ خویش به داخل (۵) فصل و (۲۸) ماده مورد تصویب قرار داد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

# فهرست مندرجات

## مقررهٔ مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی........................................................ | ٦ |
| مادهٔ دوم: | اهداف...................................................... | ٦ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات................................................. | ۷ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق.............................................. | ۷ |
| مادهٔ پنجم: | رعایت اسناد تقنینی...................................... | ۸ |
| مادهٔ ششم: | مطالبهٔ همکاری متخصصین............................. | ۸ |
| مادهٔ هفتم: | نام اختصاری.............................................. | ۹ |


## فصل دوم

## وظایف و صلاحیت های ادارهٔ تفتیش کار


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ هشتم: | وظایف...................................................... | ۹ |
| مادهٔ نهم: | ارایهٔ گزارش............................................... | ۱۱ |
| مادهٔ دهم: | توقف مؤقت و یا مسدود نمودن اداره................. | ۱۱ |
| مادهٔ یازدهم: | بررسی مجدد اداره......................................... | ۱۲ |

مادهٔ دوازدهم: تجدید وسایل و تجهیزات................................۱۲

## فصل سوم

## مکلفیت های مفتشین کار

مادهٔ سیزدهم: مکلفیت ها.............................................۱۳
مادهٔ چهاردهم: حفظ اسرار ادارهٔ تحت تفتیش.........................۱۴
مادهٔ پانزدهم: کاپی اسناد...........................................۱۵

## فصل چهارم

## مکلفیت های ادارهٔ تحت بررسی

مادهٔ شانزدهم: مکلفیت اداره.......................................۱۵
مادهٔ هفدهم: کسب نظر ادارهٔ تفتیش کار..............................۱۶
مادهٔ هجدهم: مصئونیت قراردادها.................................... ۱۶
مادهٔ نزدهم: تطبیق سفارشات مفتشین کار.............................۱۷

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

مادهٔ بیستم: امور تأدیبی ادارهٔ تحت بررسی...........................۱۷
مادهٔ بیست ویکم: موارد تخلف مفتشین کار.............................۱۸
مادهٔ بیست ودوم: حضور مسؤول بخش.................................۱۹
مادهٔ بیست وسوم: ترتیب مقاوله........................................۱۹

مادۀ بیست وچهارم: شکایت از مفتشین کار.................................. ۲۰
مادۀ بیست وپنجم: کارت هویت................................................ ۲۰
مادۀ بیست وششم: ارتقای ظرفیت مفتشین کار............................. ۲۱
مادۀ بیست وهفتم: وضع لوایح و طرزالعمل ها.............................. ۲۱
مادۀ بیست وهشتم: انفاذ.......................................................... ۲۱

## د کار د مراقبت (پلټنې) او لارښوونې مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره دکار د قانون د یوسلو شپږ څلویښتمې مادې د (۲) فقرې د حکم له مخې وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- په اداره کې د کار په مراقبت (پلټنې) او لارښوونې پورې د اړوندو چارو تنظیم.

۲- د کار د پلټونکو د فعالیتونو او د اجراآتو د ډول تنظیم.

۳- په ښه توګه په اداره کې په کار پورې د اړوندو تقنیني سندونو دښه تطبیق برابرول.

## مقررۀ مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره به تأسی از حکم فقرۀ (۲) مادۀ یکصد و چهل و ششم قانون کار وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار در اداره.

۲- تنظیم فعالیت ها و نحوۀ اجراآت مفتشین کار.

۳- فراهم نمودن تطبیق بهتر اسناد تقنینی مرتبط به کار در اداره.

## اصطلاحګاني

**درېیمه ماده:**

پـــه دې مقـــرره کـــې راتلـــونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- د کار مراقبت (پلټنه) او لارښوونه: د ادارو په کار او لارښوونې پـورې د اړوندو تقنیني سندونو له تطبیق څخه د بررسۍ پروسه ده.

۲- د کار پلټونکي: هغه مسلکي کار کوونکي چې د دې مقررې له حکمونو سره سم پـه ګروپـي ډول د کـار د مراقبت او لارښوونې لپاره په ادارو کې ګمارل کېږي.

۳- مقاوله: هغه سند دی چې د کـــار پلټونکي په کـــار پـــورې د اړونـــدو تشخیص شوو نیمګړتیاوو او تشـــو د لرې کولو لپاره د ټېرنې په پای کې د مشخصې مودې په ټاکنې سره د ادارو له واکمنو آمرینو سره لاس لیک کوي.

## د تطبیق ساحه

**څلورمه ماده:**

ددې مقررې حکمونه پـــر وزارتونـــو،

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- مراقبت (تفتیش) و رهنمایی کار: پروسۀ بررسی از تطبیق اسناد تقنینـــی مرتبط بـــه کـــار و رهنمـــایی ادارات می باشد.

۲- مفتشین کار: کارکنان مســـلکی که به شکل گروپی جهت مراقبـــت و رهنمایی کار مطـــابق احکـــام ایـــن مقـــــرره در ادارات توظیـــــف می‌گردند.

۳- مقاوله: سندی است که مفتشین کار در ختم بررسی جهت رفع خلاء ها و کاستی های تشخیص شده مرتبط به کار با تعیـــین موعـــد مشـــخص بـــا آمـــرین ذیصـــلاح ادارات امضـــاء می‌نمایند.

## ساحۀ تطبیق

**مادۀ چهارم:**

احکام این مقرره بر وزارت ها، ادارات

دولتي اونا دولتـــي ادارو، خپلواکـــو کمېســـيونونو، تصـــديو، خصوصـــي تشبثاتو، دولتي او خصوصي بـــانکونو، نادولتي مؤسسو، دولتي، مختلطـــو او خصوصي شرکتونو او د افغانستان پـــه اسلامي جمهوريت کې مېشت په بهرنيو او بين المللي مؤسسو او سازمانونو د تطبيق وړ دي.

## د تقنيني سندونو رعايتول

**پنځمه ماده:**

د کار پلټونکي مکلف دي، په ادارو کې د کار د مراقبت او لارښوونې په وخت کې، د دې مقررې او په کار پورې د اړوندو نورو تقنيني سندونو حکمونـــه رعايت کړي.

## د متخصصينو د همکارۍ غوښتنه

**شپږمه ماده:**

دکار، ټـــولنيزو چـــارو، شـــهيدانو او معلولينو وزارت د کـــار د مراقبـــت (پلټنې) او لارښوونې رياست کولی شي د اړتيا په صورت کې د کار د مراقبت او لارښوونې د چارو د ښه پرمخ بيولو

دولتی و غير دولتی، کميسيون هـــای مستقل، تصدی ها، تشبثات خصوصی، بانک هـــای دولتـــی و خصوصـــی، مؤسسات غيردولتی، شـــرکت هـــای دولتی، مختلط و خصوصی، مؤسسات و سازمانهای خارجی و بين المللی مقيم جمهوری اسلامی افغانستان قابل تطبيق می‌باشد.

## رعايت اسناد تقنينی

**مادۀ پنجم:**

مفتشين كـــار مكلـــف انـــد، حـــين مراقبت و رهنمايی كـــار در ادارات، احكام ايـــن مقـــرره و سايراســـناد تقنينی مرتبط بـــه كـــار را رعايـــت نمايند.

## مطالبۀ همكاری متخصصين

**مادۀ ششم:**

رياست مراقبت ( تفتيش) و رهنمـــايی كار وزارت كار، امـــور اجتمـــاعی، شـــهدا و معلـــولين مـــی توانـــد در صـــورت ضـــرورت همكـــاری متخصصين و كاركنان مسلكی ادارات

لپــاره، پــه رســمي دولت د ادارو د متخصصينو او مسلکي کــارکوونکو د همکارۍ غوښتنه وکړي.

**اختصاري نوم**

**اوومه ماده:**

د کار، ټولنيزو چــارو، شــهيدانو او معلولينو وزارت د کــار د مراقبــت (پلټنې) او لارښوونې رياست لــه دې وروسته په دې مقرره کې د کار د پلټنې د ادارې په نامه يادېږي.

## دوه يم فصل

## د کار د پلټنې د ادارې دندې او واکونه

**دندې**

**اتمه ماده:**

(۱) د کار د پلټنې اداره د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د کار په برخه کې، د ادارو پلټنه او لارښوونه.

۲- د حقوقو او امتيازونو د ورکړې د دولت او د ادارې او کـــــارکوونکو د

را جهت پيشبرد بهتر امور مراقبــت و رهنمـــايی کـــار، رســـماً مطالبـــه نمايد.

**نام اختصاری**

**مادۀ هفتم:**

رياست مراقبت ( تفتيش) و رهنمـــايی کار وزارت کار، امــور اجتمـــاعی، شهدا و معلولين منبعد در اين مقــرره بـــه نـــام ادارۀ تفتيش کـــار يـــاد می شود.

## فصل دوم

## وظايف و صلاحيت های ادارۀ تفتيش کار

**وظايف**

**مادۀ هشتم:**

(۱) ادارۀ تفتيش کار دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- تفتيـــش و رهنمـــايی ادارات، در عرصۀ کار.

۲- تفتيش و رهنمايی از نحوۀ پرداخت حقوق، امتيازات و مکلفيت های اداره

مکلفیتونو د ډول پلټنه او لارښوونه.
۳- د کارکوونکو د ذاتي چارو په برخه کې پلټنه او لارښوونه.
۴- د کار د چاپېریال د روغتیا ساتنې او د ساتنیزو عملي لارو چارو له تأمینولو څخه پلټنه او لارښوونه.
۵- له کار څخه د راپیداشوو پېښو او له حرفې څخه د راپیداشوو ناروغیو د مخنیوي په منظور د ادارو پلټنه او لارښوونه.
(۲) د کار د پلټنې اداره د کار د پلان له مخې، د کار پلټونکي په جلا جلا ګروپونو کې د ادارو د پلټنې او لارښوونې لپاره ګمارل.
(۳) د کار د پلټنې اداره مکلفه ده، هغه شمېر پلټونکي وګماري چې تر پلټنې لاندې اداره کې، د ذینفع نه وي.
(۴) د کار د پلټنې اداره، د دې مقررې په څلورمه ماده کې درج شوې ادارې دمخه خبر ورکولویا له خبر ورکولو پرته تر پلټنې لاندې نیسي.
(۵) تر پلټنې لاندې ادارې مکلفې دي، په کار پورې اړوند سندونه او مدارک د

و کارکنان.
۳- تفتیش ورهنمایی در عرصهٔ امور ذاتی کارکنان.
۴- تفتیش و رهنمایی از تأمین حفظ الصحهٔ محیط کار و طرق عملی ایمینی.
۵- تفتیش و رهنمایی ادارات به منظور جلوگیری از بروز حوادث ناشی از کار و امراض ناشی از حرفه.
(۲) ادارهٔ تفتیش کار مطابق پلان کار، مفتشین کار را در گروپ های جداگانه جهت تفتیش و رهنمایی ادارات توظیف می نماید.
(۳) ادارهٔ تفتیش کار مکلف است، آنعده از مفتشین را توظیف نماید که در ادارهٔ تحت تفتیش، ذینفع نباشند.
(۴) ادارهٔ تفتیش کار، ادارات مندرج مادهٔ چهارم این مقرره را با اطلاع یا بدون اطلاع قبلی، مورد تفتیش قرار میدهد.
(۵) ادارات تحت تفتیش مکلف اند، اسناد و مدارک مرتبط به کار را در

کار د پلټونکو په واک کې ورکړي.

## د رپوټ وړاندې کول

**نهمه ماده:**

(۱) د مرکز او ولایتونو د کار پلټونکي د کار د پلټنې ادارې ته د ربعوار او کلني رپوټ په وړاندې کولو مکلف دي.

(۲) د کار د پلټنې اداره، د کار له پلان سره سم، د مرکز او ولایتونو د پلټونکو رپوټ، راټولوي، توحید او تنظیموي او واکمن مقام ته یې وړاندې کوي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوی واکمن مقام د پلټونکو رپوټ په هر اړخیزه توګه مطالعه او ارزوي او لازم تدبیرونه نیسي.

## د ادارې لنډ مهال دریدل یا تړل

**لسمه ماده:**

په هغې اداره کې چې د ناوړو پیښو او د کار د نامساعدو شرایطو رامنځته کېدلو یا په هغې کې د خطرناکو ناروغیو خپرېدل شتون ولري، د کار د

اختیار مفتشین کار قراردهند.

## ارایهٔ گزارش

**مادهٔ نهم:**

(۱) مفتشین کار مرکز و ولایات مکلف به ارایهٔ گزارش ربعوار و سالانه به ادارهٔ تفتیش کار می باشند.

(۲) ادارهٔ تفتیش کار، گزارش مفتشین مرکز و ولایات را مطابق پلان کار، جمع آوری، توحید و تنظیم نموده و به مقام ذیصلاح ارایه می نماید.

(۳) مقام ذیصلاح مندرج فقرهٔ (۲) این ماده گزارش مفتشین را به صورت همه جانبه مطالعه و ارزیابی نموده و تدابیر لازم اتخاذ می نماید.

## توقف مؤقت و یا مسدود نمودن اداره

**مادهٔ دهم:**

درادارہ ایکه وقوع حوادث ناگوار و شرایط نا مساعد کار یا شیوع امراض خطرناک درآن وجود داشته باشد، ادارهٔ تفتیش کار پیشنهاد

پلټنې اداره د فعالیت د لنډ مهال درېدلو یا تر پلټنې لاندې ادارې ترول کېدو وړاندیز د اړوندې ادارې واکمن مقام ته وړاندې کوي.

## د ادارې بیا بررسي

**یوولسمه ماده:**

د کار د پلټنې اداره کولی شي، د مؤجهو دلایلو پربناء، بررسي شوې اداره د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د مقام له اجازې وروسته تر بیا پلټنې لاندې ونیسي.

## د وسایلو او تجهیزاتو نوي کول

**دوولسمه ماده:**

د کار پلټونکي کولی شي د اړتیا په صورت کې، د کار د ځای د تجهیزاتو او د نورو وسایلو او لوازمو د نوي کولو یا بدلولو سپارښتنه، تر پلټنې لاندې ادارې ته وکړي.

توقف مؤقت فعالیت و یا مسدود ساختن ادارۀ تحت تفتیش را به مقام ذیصلاح ادارۀ مربوط ارایه می نماید.

## بررسی مجدد اداره

**مادۀ یازدهم:**

ادارۀ تفتیش کار می‌تواند، بنابردلایل مؤجه، ادارۀ بررسی شده را بعد از استیذان مقام وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین مجدداً مورد تفتیش قرار دهد.

## تجدید وسایل و تجهیزات

**مادۀ دوازدهم:**

مفتشین کار می توانند در صورت ضرورت، تجدید یا تعویض تجهیزات و سایر وسایل و لوازم محل کار را به ادارۀ تحت بررسی سفارش نمایند.

## دریم فصل
## د کار د پلټونکو مکلفیتونه

**مکلفیتونه**

**دیارلسمه ماده:**

د کار پلټونکي د لاندې مکلفیتونو لرونکي دي:

۱- تر پلټنې لاندې اداروکې د ورکشاپونو په جوړلو سره، د کار د شرایطو د ښه والي، د ټولنیزو تأميناتو د تحقق، د کار د سازمان ورکولو او د کارکوونکو د حقوقو او د وجایبو د تنظیم لپاره د کار له اړوندو تقنیني سندونو سره سم په انفرادي او ټولنیز ډول د مسؤولینو او کار کوونکو لارښوونه.

۲- د ادارو د بېلابېلو برخو پلټنه.

۳- تر پلټنې لاندې ادارې له مسؤولینو او کار کوونکو څخه د سندونو او توضیحاتو غوښتنه.

۴- د دندې د اجراء کولو په وخت کې د بې طرفۍ د اصل رعایتول.

۵- په کار پورې د اړوندو تشو او

## فصل سوم
## مکلفیت های مفتشین کار

**مکلفیت ها**

**مادهٔ سیزدهم:**

مفتشین کار دارای مکلفیت های ذیل می باشند:

۱- رهنمایی مسؤولین و کارکنان، طبق اسناد تقنینی مرتبط به کار جهت بهبود شرایط کار، تحقق تأمینات اجتماعی، سازمان دهی کار و تنظیم حقوق و وجایب کارکنان طور انفرادی و دسته جمعی با تدویر ورکشاپ ها در ادارات تحت تفتیش.

۲- تفتیش بخش های مختلف ادارات.

۳- مطالبهٔ اسناد و توضیحات از مسؤولین و کارکنان ادارهٔ تحت تفتیش.

۴- رعایت اصل بیطرفی حین اجرای وظیفه.

۵- تشخیص خلاها و نواقص

نواقصو تشخیص او د هغو د لرې کولو لپاره لار ښوونه.

۶- د تشخیص شوو تشو او نواقصو د لرې کولو لپاره اداري ته د مودې ټاکنه.

۷- د خطر او د عاجلو حالاتو د شتون په صورت کې، په لنډ ممکن وخت کې د کار د ځای د لنډ مهال تشولو په هکله د سپارښتنې وړاندې کول او د اړوندې اداري د واکمن مقام د منظورۍ اخیستل.

## تر پلټنې لاندې اداري د اسرارو ساتنه

خوارلسمه ماده:

(۱) د کار پلټونکي مکلف دي، مسلکي او تولیدي اسرار، د شکایت کوونکي هویت، د شکایت سرچینه، د تولید له وسایلو څخه د ګټې اخیستنې او د سوداګرۍ تګلارې او هغه نورې موضوعګانې، چې د پلټنې په بهیر کې ورته افشاء شوي دي وساتي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره

مرتبط به کار و رهنمایی جهت رفع آنها.

۶- تعیین مدت برای اداره، جهت رفع خلاها و کاستی های تشخیص شده.

۷- در صورت موجودیت خطر و حالات عاجل، ارایۀ سفارش مبنی بر تخلیۀ مؤقت محل کار به اسرع وقت و حصول منظوری مقام ذیصلاح ادارۀ مربوط.

## حفظ اسرار ادارۀ تحت تفتیش

مادۀ چهاردهم:

(۱) مفتشین کار مکلف اند، اسرار مسلکی و تولیدی، هویت شکایت کننده، منبع شکایت، روش های بهره برداری از وسایل تولید، تجارت و سایر موضوعاتی که در جریان تفتیش برای شان افشاء شده، حفظ نمایند.

(۲) هرگاه از افشای اسرار

کې د درج شوو اسرارو له افشاء کېدو څخه، تر پلټنې لاندې اداره زیانمنه شي، دکارپلټونکي د قانون لــه حکمونــو سره سم تر عدلي تعقیب لاندې نیــول کېږي.

**د سندونو کاپي**

**پنځلسمه ماده:**

د کار پلټونکي کولی شي، د اړتیــا وړ سندونو کاپي تر پلټنې لاندې ادارې د مسؤول له نښې کولو وروسته ترلاسه کړي او د پلټنې له پاڼو سره یې یو ځای کړي.

## څلورم فصل

## تر بررسۍ لاندې ادارې مکلفیتونه

**د ادارې مکلفیت**

**شپاړسمه ماده:**

ددې مقررې په څلورمه ماده کې درج شوې ادارې، د دې مقررې د حکمونو او په کار پورې د اړوندو نورو تقنیني سندونو په رعایتولو مکلفې دي.

منــــدرج فقـــرۀ (۱) ایـــن مـــاده، ادارۀ تحت تفتیش متضـــرر گـــردد، مفتشین کار مطابق احکـــام قـــانون، مـــورد تعقیـــب عـــدلی قـــرار می گیرند.

**کاپی اسناد**

**مادۀ پانزدهم:**

مفتشین کـــار مـــی تواننـــد، کـــاپی اســـناد مـــورد ضـــرورت را بعـــد از نشانی شد مســـؤول ادارۀ تحـــت تفتیش اخـــذ و ضـــم اوراق تفتـــیش نمایند.

## فصل چهارم

## مکلفیت های ادارۀ تحت بررسی

**مکلفیت اداره**

**مادۀ شانزدهم:**

ادارات مندرج مادۀ چهارم این مقرره مکلف به رعایت احکام این مقـــرره و سایر اسناد تقنینی مـــرتبط بـــه کـــار می باشند.

## د کار د پلټنې د ادارې د نظر ترلاسه کول

**اوولسمه ماده:**

د دې مقررې په څلورمه ماده کې درج شوې ادارې مکلفې دي، د ساختماني پروژې له فعالیتونو مخکې یا د هغې په بهیر کې د کار د ساتنې د معیارونو او د ساتنیزو عملي لارو چارو د رعایتولو لپاره، د کار د پلټنې د ادارې نظر ترلاسه کړي.

## د قراردادونو مصئونیت

**اتلسمه ماده:**

د دې مقررې په څلورمه ماده کې درج شوې ادارې او د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت مکلف دي د قراردادونو د مصئونیت لپاره د ساتنیز تخنیک د معیارونو او قواعدو د تأمینولو او د کار د چاپیریال د روغتیا ساتنې او د قرارداد د شرطونو د تأمینولو په غرض د کار د قانون حکمونه او په هغه پورې نور اړوند تقنیني سندونه رعایت کړي.

## کسب نظر ادارۀ تفتیش کار

**مادۀ هفدهم:**

ادارات مندرج مادۀ چهارم این مقرره مکلف اند، قبل از فعالیت های پروژۀ ساختمانی یا در جریان آن جهت رعایت معیار های حفاظت کار و طرق عملی ایمینی، نظر ادارۀ تفتیش کار را حاصل نمایند.

## مصئونیت قرار داد ها

**مادۀ هجدهم:**

ادارات مندرج مادۀ چهارم این مقرره و وزارت کار ، امور اجتماعی، شهدا و معلولین مکلف اند جهت مصئونیت قرارداد ها احکام قانون کار و سایر اسناد تقنینی مر تبط به آن را غرض تأمین معیار ها و قواعد تخنیک ایمینی و حفظ الصحه محیطی کار و شرایط قرارداد رعایت نمایند.

**د کار د پلټونکو د سپارښتنو تطبيق**

**نولسمه ماده:**

پلټل شوې ادارې مکلفې دي د کار د پلټونکو د قانوني سپارښتنوله تحقق څخه په ټاکلې ميعاد کې د کار پلټنې ادارې ته ډاډ ورکړي.

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

**تربررسۍ لاندې ادارې تأديبي چارې**

**شلمه ماده:**

لاندې موارد د ادارو سرغړونه شمېرل کېږي او مرتکب له احوالو سره سم، د واکمن مقام له خوا، تأديبيږي:

۱- د هغې ادارې له خوا چې ټاکل شوې ده تر پلټنې لاندې ونيول شي د کار د پلټونکو نه اجازه.

۲- له دريو ورځو څخه زيات دکار د پلټنې د ځنډولو په منظور د پلمې لټول.

۳- د تسليمۍ له نېټې څخه تر دريو کاري ورځو مودې پورې د کار د

**تطبيق سفارشات مفتشين کار**

**مادهٔ نزدهم:**

ادارات تفتيش شده مکلف اند از تحقق سفارشات قانونی مفتشين کار، به ادارهٔ تفتيش کار در ميعاد تعيين شده اطمينان دهند.

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

**امور تأديبی ادارهٔ تحت بررسی**

**مادهٔ بيستم:**

موارد ذيل تخطی ادارات پنداشته شده و مرتکب حسب احوال از طرف مقام ذيصلاح، تأديب می‌گردد:

۱- عدم اجازه مفتشين کاراز طرف اداره ايکه قرار است تحت تفتيش قرار گيرد.

۲- بهانه جويی به منظور تأخير تفتيش کار بيشتر از سه روز کاری.

۳- تأخير در ارايهٔ پاسخ به مکاتيب و پرسشنامه های مفتشين

پلټونکو لیکونو او پوښتن لیکونو ته د ځواب په وړاندې کولو کې ځنډ.

۴- په ټاکلې میعاد کې تر پلټنې لاندې ادارې له خوا د کار د پلټونکو د قانوني سپارښتنو نه تطبیق.

## د کار د پلټونکو د سرغړونې موارد

**یوویشتمه ماده:**

لاندې موارد د کار د پلټونکو سرغړونه بلل کېږي، سرغړوونکی د قانون له حکمونو سره سم، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي یا د اړوندو مقاماتو له خوا تأدیبېږي:

۱- د اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو نه تطبیق.

۲- د حقایقو او ددې مقررې له حکمونو او نورو اړوندو تقنیني سندونو څخه تر پلټنې لاندې ادارې د سرغړونو پټول.

۳- په خپل سر د ادارې پلټنه.

۴- تر پلټنې لاندې ادارې د اسرارو افشاء کول.

۵- له وظیفوي واکونو څخه ناوړه ګټه

کار، از تاریخ تسلیمی الی مدت سه روز کاری.

۴- عدم تطبیق سفارشات قانونی مفتشین کار از جانب ادارۀ تحت بررسی در میعاد تعیین شده.

## موارد تخلف مفتشین کار

**مادۀ بیست ویکم:**

موارد ذیل تخلف مفتشین کار پنداشته شده، متخلف مطابق احکام قانون، مورد تعقیب عدلی قرار گرفته یا از طرف مقامات مربوط تأدیب می گردد:

۱- عدم تطبیق احکام اسناد تقنینی مربوط.

۲- کتمان حقایق و تخطی های ادارۀ تحت تفتیش از احکام این مقرره و سایر اسناد تقنینی مربوط.

۳- تفتیش خود سرانۀ اداره.

۴ - افشای اسرار ادارۀ تحت تفتیش.

۵- سوء استفاده از صلاحیت های

اخيستنه.

۶- د غير واقعي رپوټونو وړاندې کول.

۷- د دندو په اجراء کولو کې تعلل او د پلمې لټول.

## د برخې د مسؤول حضور

**دوه ويشتمه ماده:**

د کار پلټنه تر پلټنې لاندې اداره کې د برخې د مسؤول شخص په حضور کې صورت مومي.

دبرخې د مسؤول دنه حضور په صورت کې تر پلټنې لاندې ادارې له خوا د هغه پر ځای بل شخص ورپېژندل کېږي.

## د مقاولې برابرول

**درويشتمه ماده:**

(۱) تر پلټنې لاندې اداره کې د کار د پلټونکو د اجراآتو پايلې او د تشو او نواقصو او د هغو د لرې کولو په اړوند د هغوی قانوني سپارښتنې او تر پلټنې لاندې ادارې وړانديزونه او نظريې په مقاوله کې درجېږي او د لومړۍ درجه آمر او د مؤظفو پلټونکو د ګروپ له خوا لاسليک کېږي.

وظيفوی.

۶- ارايه گزارشات غير واقعی.

۷- تعلل و بهانه جويی در اجرای وظايف.

## حضور مسؤول بخش

**مادۀ بيست و دوم:**

تفتيش کار با حضور داشت شخص مسؤول بخش در ادارۀ تحت تفتيش صورت می گيرد.

در صورت عدم حضور مسؤول بخش، شخص ديگری از جانب ادارۀ تحت تفتيش به عوض وی معرفی می گردد.

## ترتيب مقاوله

**مادۀ بيست و سوم:**

(۱) نتايج اجرآات مفتشين کار و سفارشات قانونی آنها در رابطه به خلاها و کاستی ها و رفع آنها در ادارۀ تحت تفتيش و پيشنهادات و نظريات ادارۀ تحت تفتيش درج مقاوله گرديده و از طرف آمر اعطای درجه اول آن و گروپ مفتشين مؤظف، امضاء می گردد.

(۲) که چیرې تر پلټنې لاندې اداره، د مقاولې د منځپانګې په هکله، مخالف نظر ولري، له سندونو او دلیلونو سره یوځای خپل نه قناعت په لیکلي ډول، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت ته لیږي.

(۳) د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د موضوع د بیا بررسۍ په منظور د پلټونکو نوی ګروپ ګماري.

## د کار له پلټونکو څخه شکایت

**څلېریشتمه ماده:**

تر پلټنې لاندې اداره کولی شي د کار د پلټونکو د غیر قانوني اجراآتو څخه د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت ته شکایت وکړي.

## د هویت کارت

**پنځه ویشتمه ماده:**

د کارپلټونکي د هویت د کارت لرونکي دي چې د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د مخصوص آرم لرونکی دی.

(۲) هرگاه ادارهٔ تحت تفتیش، در مورد محتوای مقاوله، نظر مخالف داشته باشد، توأم با اسناد و دلایل، عدم قناعت خود را به شکل تحریری، به وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین ارسال می‌نماید.

(۳) وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین به منظور بررسی مجدد موضوع گروپ جدید مفتشین را توظیف می نماید.

## شکایت از مفتشین کار

**مادهٔ بیست و چهارم:**

ادارهٔ تحت تفتیش می تواند از اجراآت غیر قانونی مفتشین کار به وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین، شکایت نمایند.

## کارت هویت

**مادهٔ بیست و پنجم:**

مفتشین کار، دارای کارت هویت بوده که دارای آرم مخصوص وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین می باشد.

## د کار د پلټونکو د ظرفيت لوړل

**شپږويشتمه ماده:**

د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت مکلف دی د کار د پلټونکو د ظرفيت د لوړولو په منظور لازم تدبيرونه ونيسي.

## د لايحو او کړنلارو وضع کول

**اووه ويشتمه ماده:**

د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت کولی شي ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبيق په منظور لايحې او کړنلارې وضع کړي.

## انفاذ

**اته ويشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذه او ددې په نافذېدو سره د ۱۴۲۰ هجري قمري کال د ذوالقعدة الحرام مياشتې د نهمې نېټې په (۷۹۱) گڼه رسمي جريده کې خپره شوې د کار د مراقبت د تنظيم مقرره لغو کېږي.

## ارتقای ظرفیت مفتشین کار

**مادۀ بیست و ششم:**

وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین مکلف است به منظور ارتقای ظرفیت مفتشین کار تدابیر لازم را اتخاذ نماید.

## وضع لوایح و طرزالعمل ها

**مادۀ بیست و هفتم:**

وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین می تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره لوایح و طرزالعمل ها را وضع نماید.

## انفاذ

**مادۀ بیست و هشتم:**

این مقرره از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن، مقررۀ تنظیم مراقبت کار منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۹۱) مؤرخ نهم ذالقعدة الحرام سال ۱۴۲۰هجری قمری لغو می‌گردد.

## د اوسپنې پټلۍ قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه: (۳۲۱)

نېټه: ۱۴/ ٦/ ۱۳۹۷

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د ١٦ جزء د حکم له مخې او د نهه اويايمې مادې په رعايتولو سره، د اوسپنې پټلۍ قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۳۹۷/٦/۷ نېټې د (۸) ګڼه مصوبې پربنسټ، د (۱۱) فصلونو او (۵۸) مادو په دننه کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان او د اوسپنې پټلۍ قانون د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې هغې

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشيح قانون خط آهن

شماره: (۳۲۱)

تاريخ: ۱۳۹۷/٦/۱۴

مادۀ اول:

به تأسی از حکم جزء ١٦ مادۀ شصت و چهارم و با رعايت مادۀ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، قانون خط آهن را که به اساس مصوبۀ شماره (۸) مؤرخ ۱۳۹۷/٦/۷ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۱۱) فصل و (۵۸) ماده تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

مادۀ دوم:

وزير عدليه و وزير دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، اين فرمان و قانون خط آهن را در خلال مدت(۳۰) روز از تاريخ انعقاد نخستين جلسۀ شورای ملی به آن

شوري ته وړاندې کړي.

دریيمه ماده:

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د یاد قانون له متن سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

شوری تقدیم نمایند.

مادۀ سوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د اوسپنې پټلۍ د قانون د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

ګڼه: (۸)

نېټه: ۷/ ٦/ ۱۳۹۷

د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې او د افغانستان اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې، د ۷/ ٦/ ۱۳۹۷ نېټې په خپله غونډه کې د اوسپنې پټلۍ د قانون طرحه د (۱۱) فصلونو او (۵۸) مادو په دننه کې د تقنیني فرمان په توګه تصویب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح قانون خط آهن

شماره: (۸)

تاریخ: ۱۳۹۷/٦/۷

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به تأسی از حکم مادهٔ هفتادونهم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۷/٦/۷ خویش طرح قانون خط آهن را به داخل (۱۱) فصل و (۵۸) ماده به حیث فرمان تقنینی تصویب نمود.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## قانون خط آهن

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی................................................ | ۲۹ |
| مادهٔ دوم: | اهداف.............................................. | ۲۹ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات........................................ | ۳۰ |
| مادهٔ چهارم: | مرجع تطبیق....................................... | ۳۴ |

### فصل دوم

### تشکیل، وظایف وصلاحیت های اداره خط آهن

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ پنجم: | تشکیل اداره خط آهن......................... | ۳۴ |
| مادهٔ ششم: | وظایف و صلاحیت ها......................... | ۳۴ |

### فصل سوم

### احداث خط آهن، حفظ و مراقبت آن

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ هفتم: | احداث خط آهن................................ | ۳۷ |
| مادهٔ هشتم: | منع اعمار تأسیسات وساختمان ها............. | ۳۷ |
| مادهٔ نهم: | تعیین وتثبیت حریم خط آهن................. | ۳۸ |
| مادهٔ دهم: | استملاک........................................ | ۳۸ |
| مادهٔ یازدهم: | مصئونیت خط آهن ........................... | ۳۹ |
| مادهٔ دوازدهم: | ایجاد ورکشاپ های تخنیکی وترمیماتی....... | |
| | و مراکز اولیه صحی.......................... | ۳۹ |

مادۀ سیزدهم: ایجاد محلات تقاطع ........................۴۰
مادۀ چهاردهم: دروازۀ محلات تقاطع اختصاصی.........................۴۱
مادۀ پانزدهم: ترافیک خط آهن.................................۴۲
مادۀ شانزدهم: آموزش کارکنان خط آهن.........................۴۲

## فصل چهارم

## بورد مسلکی

مادۀ هفدهم: ایجاد بورد مسلکی.................................۴۴
مادۀ هجدهم: وظایف و صلاحیت های بورد.........................۴۵

## فصل پنجم

## جوازنامۀ خط آهن

مادۀ نزدهم: درخواست جوازنامه..................................۴۷
مادۀ بیستم: بررسی تخنیکی......................................۴۸
مادۀ بیست و یکم: توظیف کمیسیون فنی وتخنیکی.......................۴۹
مادۀ بیست و دوم: تعلیق یا لغو جوازنامه..........................۵۰
مادۀ بیست و سوم: بررسی وحصول اطمینان...........................۵۲
مادۀ بیست و چهارم : اطلاع توقف قطار درحالت وقوع حادثه...........۵۴

## فصل ششم

## وجایب متصدی خط آهن

مادۀ بیست و پنجم: رعایت موارد...................................۵۵
مادۀ بیست وششم: ارایۀ گزارش....................................۵۶
مادۀ بیست و هفتم: اطلاع دهی.....................................۵۸
مادۀ بیست وهشتم: تاًمین شرایط عبور و مرور........................۵۹

مادۀ بیست ونهم: شرایط جواز رانندگی........................۵۹

فصل هفتم

کرایۀ مسافرین و اموال

مادۀ سی ام: انتقال مسافرین واموال..........................۶۱
مادۀ سی ویکم: تثبیت کرایه....................................۶۱
مادۀ سی ودوم: حمل ونقل اموال...............................۶۲
مادۀ سی و سوم: فراهم نمودن تسهیلات........................۶۲
مادۀ سی وچهارم: آگاهی از معلومات..........................۶۳
مادۀ سی وپنجم: تغییر در کرایه.................................۶۳
مادۀ سی وششم: کمیت وکیفیت اموال..........................۶۴
مادۀ سی وهفتم: عدم انتقال اموال قبل از تحویلی کرایه.........۶۴

فصل هشتم

تفتیش خط آهن

مادۀ سی وهشتم: تفتیش و کنترول...............................۶۵
مادۀ سی و نهم: رعایت شرایط مندرج جواز نامه..................۶۶
مادۀ چهلم: انتقال مدیریت مؤقت متصدی خط آهن..............۶۶

فصل نهم

وقوع حوادث در خط آهن و بررسی آن

مادۀ چهل ویکم: طرق مصئونیتی، علایم و مشخصات حادثه.............۶۹
مادۀ چهل و دوم: توقف فعالیت به اثر وقوع حادثه....................۷۰
مادۀ چهل و سوم: اطلاع حادثه.......................................۷۰
مادۀ چهل و چهارم: توظیف مسؤول محل حادثه.....................۷۲

مادۀ چهل و پنجم: جبران خساره........۷۳
مادۀ چهل و ششم: ارزیابی حادثه........۷۴
مادۀ چهل و هفتم: اتخاذ تصمیم در حالت ادعا........۷۵
مادۀ چهل و هشتم: صندوق وجهی و حساب بانکی خاص........۷۵
مادۀ چهل و نهم: حل منازعه........۷۷

## فصل دهم

## مؤیدات

مادۀ پنجاهم: تأدیب........۷۷
مادۀ پنجاه و یکم جرایم خط آهن........۷۸

## فصل یازدهم

## احکام متفرقه

مادۀ پنجاه و دوم: حالت غیرمترقبه........۸۰
مادۀ پنجاه و سوم: تحویلی عواید........۸۱
مادۀ پنجاه وچهارم: بیمه........۸۱
مادۀ پنجاه و پنجم: ویب سایت........۸۲
مادۀ پنجاه و ششم: یونیفورم کارکنان خط آهن........۸۲
مادۀ پنجاه و هفتم: وضع مقرره ها، لوایح و طرزالعمل ها........۸۳
مادۀ پنجاه و هشتم: انفاذ........۸۳

## د اوسپنې پټلۍ د قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځه اویایمې مادې په (۵) فقره کې د درج شوي حکم په رڼا کې وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د بین المللي معیارونو په رعایت سره د اوسپنې پټلۍ د ساختمان، ګټې اخیستنې، ساتنې او مراقبت، خدمتونو د چارو او نورو اړوندو چارو تنظیم، سازمان ورکونه، رهبري او څارنه.

۲- د دولت له پرمختیایي او ټول ګټو پلانونو سره سم د اوسپنې پټلۍ د شبکې احداث او د سیمه ییزې او بین المللي اوسپنې پټلۍ له شبکو سره

## قانون خط آهن
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی حکم فقرۀ (۵) مادۀ هفتاد و پنجم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم، سازماندهی، رهبری و نظارت امور ساختمان، بهره برداری، حفظ و مراقبت، خدمات و سایرامور مربوط به خط آهن با رعایت معیارهای بین المللی.

۲- احداث شبکۀ خط آهن در مطابقت با پلان های انکشافی و عام المنفعۀ دولت و اتصال آن به شبکه های خط آهن منطقوی

د هغې وصلول.

۳- په ملي، سیمه ییزه او بین المللي کچه د اوسپني پټلۍ د شبکې له لارې د سوداګریزو، ګرځندوی او ټولنیزو اړیکو پراختیا او ټینګښت.

۴- د ترانسپورتي چټکو خدمتونو عرضه کول او د لېږد رالېږد په برخه کې د آسانتیاوو برابرول.

۵- د اوسپني پټلۍ د شبکې په فعالیتونو او سیستمونوکې د خوندیتوب د شرایطو رامنځته کول.

## اصطلاحګانې

**دریيمه ماده:**

پدې قانون کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- اوسپني پټلۍ: مواصلاتي کرښې، زیربناوې، ترمینلونه، شبکې او د هغو عملیاتي سیستمونه دي.

۲- د اوسپني پټلۍ ترانسپورت: د مبدأ له ځای څخه د مقصد تر ځای پورې د مسافرینو، لوازمو، مالونو، پُستي مراسلاتو، طیورو او حیواناتو لېږد

و بین المللی.

۳- توسعه و تحکیم روابط تجارتی، سیاحتی و اجتماعی از طریق شبکهٔ خط آهن به سطح ملی، منطقوی و بین المللی.

۴- عرضهٔ خدمات سریع ترانسپورتی و فراهم نمودن تسهیلات در زمینهٔ حمل و نقل.

۵- ایجاد شرایط ایمنی در فعالیت ها و سیستم های شبکهٔ خط آهن.

## اصطلاحات

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:

۱- خط آهن: خطوط مواصلاتی، زیربناها، ترمینل ها، شبکه ها و سیستم های عملیاتی آنها می‌باشد.

۲- ترانسپورت خط آهن: حمل و نقل مسافرین، لوازم، اموال، مراسلات پستی، طیور و حیوانات از محل مبداء به محل

رالېږد دی.

۳- د اوسپنې پټلۍ ماشین آلات او ترانسپورتي تجهیزات: رېلونه، کېبلونه، د اوسپنې پټلۍ، د ترانسپورتي خدمتونو ممد متحرک وسایط، واګونونه، قطارونه، ټریلرونه او د واګونونو لېږدونې ماشین(لوکوموتیف) ، وسایل او د تخنیکي او عملیاتي ساتنې او مراقبت تجهیزات رانغاړي.

۴- د اوسپنې پټلۍ تأسیسات: ساختمانونه، ترمینلونه، استیشنونه او د اوسپنې پټلۍ حریم، د تشونې او باراخیستنې ځایونه، ګدامونه او اړوند برېښنايي، مخابراتي او ترانسپورتي ماشین آلات دي.

۵- د اوسپنې پټلۍ حریم: د اوسپنې پټلۍ هغه دوه طرفه فواصل دي چې خوندي (ایمني) ساحو په توګه ټاکل شوي دي.

۶- ګیج: د اوسپنې پټلۍ د دوو ریلونو د دننه څنډې ترمنځ فاصله ده چې قطار د هغه پرمخ حرکت کوي.

۷- زیربنا: دایمي پټلۍ او سیستمونه،

مقصد می‌باشد.

۳- ماشین آلات و تجهیزات ترانسپورتی خط آهن: شامل ریل ها، کیبل ها، خطوط آهن، وسایط متحرک ممد خدمات ترانسپورتی، واگونها، قطارها، تریلرها وماشین انتقال واگونها (لوکوموتیف)، وسایل و تجهیزات حفظ و مراقبت تخنیکی و عملیاتی می‌باشد.

۴- تأسیسات خط آهن: ساختمان ها، ترمینل ها، استیشن ها و حریم خط آهن، محلات تخلیه و بارگیری، گدام ها و ماشین آلات برقی، مخابراتی و ترانسپورتی مربوط می‌باشد.

۵- حریم خط آهن: فواصل دو طرفۀ خط آهن است که به حیث ساحات ایمنی تعیین گردیده است.

۶- گیج: فاصله میان لبۀ داخلی دو ریل خط آهن است که قطار بر روی آن حرکت می‌نماید.

۷- زیربنا: خطوط و سیستم های

جلا کمکي پټلۍ، ګدامونه، سرپټي متحرک تجهیزات او فرعي پټلۍ دي.

۸- فرعي پټلۍ: هغه اوسپنیزه پټلۍ ده چې د تولیدي، سوداګریزو او خدماتي مؤسسو او شرکتونو پواسطه د اوسپنې له پټلۍ سره وصلیږي.

۹- ترمینل: هغه ځای دی چې د اوسپنې د پټلۍ د قطار د حرکت مبدأ او یا مقصد دی.

۱۰- د اوسپنې د پټلۍ متصدي: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې ددې قانون له حکمونو سره سم د اوسپنې د پټلۍ د ساختمان او فعالیتونو په برخه کې هغه ته جوازلیک ورکړل شوی وي.

۱۱- د اوسپنې د پټلۍ شبکه: د اوسپنې پټلۍ زیربناګانې او تأسیسات دي چې د دولتي یا نا دولتي اوسپنې پټلۍ د ادارې په واسطه احداث، ګټه اخیستنه، ساتنه او مراقبت او مدیریت کیږي.

۱۲- د تقاطع ځایونه: هم سطحه

دایمی، خطوط جداگانهٔ کمکی، گدام ها، تجهیزات متحرک سرپوشیده و خط فرعی می‌باشد.

۸- خط فرعی: خط آهنی است که توسط شرکت های دولتی یا خصوصی به هدف امور تجارتی و خدماتی به خط آهن وصل می‌شود.

۹- ترمینل: محلی که مبدای حرکت و یا مقصد قطار خط آهن است.

۱۰- متصدی خط آهن: شخص حقیقی یا حکمی است که مطابق احکام این قانون در عرصهٔ ساختمان و فعالیت های خط آهن جواز نامه به وی اعطاء گردیده باشد.

۱۱- شبکهٔ خط آهن: زیربناها و تأسیسات خط آهن است که توسط ادارهٔ خط آهن دولتی یا غیر دولتی احداث، بهره برداری، حفظ و مراقبت و مدیریت می‌شود.

۱۲- محلات تقاطع: خطوط

مواصلاتي ليکې دي چې په مشخصو ځايونو کې يو بل پرې کوي.

۱۳- د مسافرينو ټکت: هغه مطبوع سند دی چې د مسافر او د هغو د سفر د لوازم د لېږد رالېږد په غرض د اوسپنې پټلۍ د ادارې له لوري طرحه او ترتيبيږي او د سمون او د همغږۍ د بورد له تأييد وروسته تر اجراء لاندې نيول کيږي.

۱۴- د اوسپنې پټلۍ بار نامه: د کاليو او صادراتي او وارداتي مالونو د لېږد رالېږد مطبوع يا برېښنايي سند دی چې اوسپنې پټلۍ د ادارې له لوري طرحه او ترتيبيږي او د سمون او همغږۍ د بورد له تأييد وروسته تر اجراء لاندې نيول کيږي.

۱۵- جوازليک: هغه مطبوع سند دی چې ددې قانون له حکمونو سره سم د اوسپنې پټلۍ متصدي ته د اوسپنې پټلۍ د ادارې له لوري صادر شوی وي.

مواصلاتی هم سطح است که در محلات مشخص یکدیگر را قطع می‌نماید.

۱۳- تکت مسافرین: سند مطبوعی است که غرض حمل و نقل مسافر و لوازم سفر آنها از طرف اداره خط آهن طرح و ترتیب و بعد از تائید بورد مسلکی مورد اجراء قرار می‌گیرد.

۱۴- بار نامه خط آهن: سند مطبوع یا الکترونیکی حمل و نقل کالاها و اموال صادراتی و وارداتی می‌باشد که از طرف ادارۀ خط آهن طرح و ترتیب و بعد از تائید بورد مسلکی مورد اجراء قرار می‌گیرد.

۱۵- جواز نامه: سند مطبوعی است که مطابق احکام این قانون به متصدی خط آهن از طرف ادارۀ خط آهن صادر گردیده باشد.

**د تطبيق مرجع**

**ځلورمه ماده:**

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره ددې قانون د حکمونو د تطبيق مرجع ده.

## دوه يم فصل

## د اوسپنې پټلۍ د ادارې تشکيل، دندې او واکونه

**د اوسپنې پټلۍ د ادارې تشکيل**

**پنځمه ماده:**

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره د دولتي خپلواک تشکيل او بودجې لرونکې ده، چې په دې قانون کې د اوسپنې پټلۍ د ادارې په نوم يادېږي.

**دندې او واکونه**

**شپږمه ماده:**

د اوسپنې د پټلۍ اداره، د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د اوسپنې په پټلۍ پورې د اړوندې پاليسۍ طرحه او تطبيق.

۲- د اوسپنې د پټلۍ په فعاليت پورې د اړوندو چارو تنظيم، سازمان ورکونه،

**مرجع تطبيق**

**مادۀ چهارم:**

ادارۀ خط آهن افغانستان مرجع تطبيق احکام اين قانون می‌باشد.

## فصل دوم

## تشکيل، وظايف وصلاحيت‌های اداره خط آهن

**تشکيل اداره خط آهن**

**مادۀ پنجم:**

ادارۀ خط آهن افغانستان دارای تشکيل و بودجۀ مستقل دولتی بوده،که در اين قانون به نام ادارۀ خط آهن ياد می‌گردد.

**وظايف و صلاحيت ها**

**مادۀ ششم:**

(۱) ادارۀ خط آهن، دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می‌باشد:

۱- طرح و تطبيق پاليسی مربوط به خط آهن.

۲- تنظيم، سازماندهی، مديريت و رهبری امور مربوط به

مدیریت او رهبري.

۳- په هېواد کې د اوسپنې پټلۍ د زیربناوو د پراختیا لپاره د مالي سرچینو تشخیص او تثبیت.

۴- د قانون له حکمونو سره سم د اوسپنې پټلۍ په هکله له نورو هېوادونو سره د دوه اړخیزو یا څو اړخیزو سیمه ییزو او بین المللي موافقه لیکونو او قراردادونو عقدول.

۵- د اوسپنې پټلۍ د شبکو د پراختیا لپاره، د پانګونې د جلب په برخه کې د لازمو آسانتیاوو برابرول.

٦- د دولتي او نادولتي اوسپنې پټلۍ او د اوسپنې پټلۍ د شبکو څارنه، کنترول او بررسي.

۷- د اوسپنې په پټلۍ پورې اړوند د هغو بین المللي میثاقونو د رعایتولو چې افغانستان په هغو پورې الحاق کړی دی په هکله د اوسپنې پټلۍ له ساختمان، تأسیساتو او د خدمتونو له عرضه کوونکو څخه څارنه.

۸- په لیکلي او برېښنایي ډول د مسافرت د ټکټ او بارنامې د بڼې او

فعالیت خط آهن.

۳- تشخیص و تثبیت منابع مالی جهت توسعهٔ زیر بناهای خط آهن در کشور.

۴-عقد موافقتنامه ها و قرارداد های منطقوی و بین المللی دو جانبه یا چند جانبه با سایر کشور ها در مورد خط آهن طبق احکام قانون.

۵- فراهم نمودن تسهیلات لازم در زمینهٔ جلب سرمایه گذاری، جهت توسعهٔ شبکه های خط آهن.

٦- نظارت، کنترول و بررسی خط آهن و شبکه های خط آهن دولتی و غیر دولتی.

۷- نظارت از ساختمان، تأسیسات و عرضه کنندگان خدمات خط آهن مبنی بر رعایت میثاق های بین المللی مربوط خط آهن که افغانستان به آن الحاق نموده است.

۸- ترتیب شکل و محتوای تکت مسافرت و بارنامه طور کتبی

محتوي ترتيبول.
۹- د سمون او همغږۍ بورد ته د مسافرت د ټکټ د بيې او د مالونو د کرايې وړانديزول.
۱۰- د اوسپنې په پټلۍ پورې د اړوندو لايحو او کړنلارو طرحه او ترتيبول.
۱۱- د افغانستان د اسلامي جمهوريت رياست ته د فعاليت د راپور وړاندې کول.
۱۲- ددې قانون له حکمونو سره سم د نورو دندو او واکونو ترسره کول.
(۲) د اوسپنې پټلۍ اداره کولی شي د ساختماني شرکتونو د اوسپنې پټلۍ د فعاليتونو د چارو د لابنه تنظيم او د ساختماني توکو د برابرولو په منظور، ګټه اخيستنه او حفظ او مراقبت ددې قانون له حکمونو سره سم رامنځته کړي.
(۳) د يادو شرکتونو تشکيلاتي جوړښت او د فعاليت ډول په اړونده اساسنامه کې تنظيمېږي.

والکترونيکی.
۹- پيشنهاد قيمت تکت مسافرت و کرايه اموال به بورد مسلکی.
۱۰- طرح و ترتيب لوايح و طرزالعمل های مربوط به خط آهن.
۱۱- ارايهٔ گزارش فعاليت به رياست جمهوری اسلامی افغانستان.
۱۲- انجام ساير وظايف و صلاحيت ها مطابق احکام اين قانون.
(۲) ادارهٔ خط آهن می‌تواند به منظور تنظيم بهتر امور فعاليت های خط آهن شرکت های ساختمان و تهيه مواد ساختمانی، بهره برداری و حفظ و مراقبت را مطابق احکام قانون ايجاد نمايد.
(۳) ساختار تشکيلاتی و نحوه فعاليت شرکت های متذکره در اساسنامهٔ مربوط تنظيم می گردد.

## دریيم فصل
## د اوسپنې د پټلۍ احداث، د هغې ساتنه او مراقبت

**د اوسپنې د پټلۍ احداث**

**اوومه ماده:**

(۱) د اوسپنې د پټلۍ احداث له پرمختیایي، اقتصادي او تکنالوژيکي پلانونو سره سم طرحه او تنظيمېږي.

(۲) د اوسپنې پټلۍ اداره کولای شي، پخپله یا د خصوصي سکتور په اشتراک د اوسپنې پټلۍ په احداث لاس پورې کړي.

(۳) د اوسپنې پټلۍ د احداث ډول، ګټه اخیستنه، خوندي(ايمني) شرايط، نښې، متقاطع سطحې، د هغې ساتنه او مراقبت په جلا مقرروکې تنظيمېږي.

**د تأسیساتو او ساختمانونو د ودانولو منع**

**اتمه ماده:**

د روغتیایي لومړنیو خدمتونو د وړاندې

## فصل سوم
## احداث خط آهن، حفظ و مراقبت آن

**احداث خط آهن**

**مادۀ هفتم:**

(۱) احداث خط آهن مطابق پلان های انکشافی، اقتصادی و تکنالوژیکی طرح و تنظیم می‌شود.

(۲) ادارۀ خط آهن می‌تواند، خود یا به اشتراک سکتور خصوصی به احداث خط آهن مبادرت ورزد.

(۳) طرز احداث خط آهن، بهره برداری، شرایط ایمنی، علایم، سطوح متقاطع، حفظ و مراقبت آن در مقرره های جداگانه تنظیم می‌گردد.

**منع اعمار تأسیسات و ساختمان ها**

**مادۀ هشتم:**

اعمار تأسیسات و ساختمان های

کولو د مرکزونـو او د تخنیکـي او ترمیماتي ورکشـاپونو پـه اسـتثني د اوسپنې پټلۍ په حـریم او د هغـو د تأسیساتو په محدوده کې د دولتـي او نادولتي تأسیساتو او ساختمانونو ودانول منع دي.

## د اوسپنې پټلۍ د حریم ټاکـل او تثبیتول

نهمه ماده:

د اوسپنې پټلـۍ حـریم او د هغـې تم ځایونه د هغې ساحې موقعیت ته په کتو سره چې په هغـه کـې د خطـر احتـمال متصور نه وي، پـه اړونـده مقرره کې ټاکل کېږي او تثبیتېږي.

## استملاک

لسمه ماده:

د اوسپنې پټلۍ اداره د اوسپنې پټلـۍ د احداث، د اوسپنې پټلۍ د تأسیساتو د احداثولو، د خوندي شرایطو د تأمینولو، ساتنې او مراقبـت، ورکشـاپونه او د اوسپنې پټلۍ د نورو ملحقاتو د ساختمان په منظور کولای شي د اراضۍ د ادارې

دولتـی و غیـر دولتـی در حـریم خط آهـن و محـدودهٔ تأسیسـات آن بـه اسـتثنای مراکـز عرضـهٔ خدمات اولیهٔ صحی و ورکشاپ های تخنیکـی و ترمیمـاتی ممنـوع می‌باشد.

## تعیـین و تثبیـت حـریم خط آهن

مادهٔ نهم:

حریم خط آهن و ایستگاه های آن بـا نظرداشت موقعیت ساحهٔ که احتـمال خطـر در آن متصـور نباشـد، در مقررهٔ مربـوط تعیـین و تثبیـت می‌گردد.

## استملاک

مادهٔ دهم:

ادارهٔ خط آهن بـه منظـور احـداث خط آهن، تأسیسـات خـط آهـن، تـأمین شـرایط ایمنـی، حفـظ و مراقبت، ورکشاپ ها و سـاختمان سـایر محلقـات خـط آهـن می‌تواند به همکـاری ادارهٔ اراضـی

په همکارۍ د اړوند قانون له حکمونو سره سم، نادولتي ځمکې استملاک کړي.

## د اوسپنې پټلۍ مصئونیت

**یوولسمه ماده:**

د اوسپنې پټلۍ اداره او د اوسپنې پټلۍ متصدي مکلف دي، د اوسپنې پټلۍ د مصئونیت د تأمین او له هغې څخه د ښې ګټې اخیستنې په منظور، لازم تدابیر ونیسي او عملي یې کړي.

## د تخنیکي او ترمیماتي ورکشاپونو او د روغتیایي لومړنیو مرکزونو رامنځته کول

**دوولسمه ماده:**

(۱) د اوسپنې پټلۍ اداره او د اوسپنې پټلۍ متصدي مکلف دي، ثابت او ګرځنده ( سیار) تخنیکي او ترمیماتي ورکشاپونه او د روغتیایي لومړنیو خدمتونو د عرضه کولو مرکزونه په مناسبو ځایونو کې رامنځته او تجهیز کړي.

(۲) د اوسپنې پټلۍ اداره ثابت او سیار

زمین های غیر دولتی را طبق احکام قانون مربوطه، استملاک نماید.

## مصئونیت خط آهن

**مادهٔ یازدهم:**

ادارهٔ خط آهن و متصدی خط آهن مکلف اند، به منظور تأمین مصئونیت خط آهن و بهره برداری بهتر از آن، تدابیر لازم را اتخاذ و عملی نمایند.

## ایجاد ورکشاپ های تخنیکی و ترمیماتی و مراکز اولیه صحی

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) ادارهٔ خط آهن و متصدی خط آهن مکلف اند، ورکشاپ های تخنیکی و ترمیماتی ثابت و سیار و مراکز عرضهٔ خدمات اولیهٔ صحی را در محلات مناسب ایجاد و تجهیز نمایند.

(۲) ادارهٔ خط آهن شرایط و محل

تخنیکي او ترمیماتي ورکشاپونه او د روغتیایي لومړنیو خدمتونو د عرضه کولو مرکزونو د رامنځته کولو شرایط او ځای ټاکي او د هغوی د فعالیت ډول وخت په وخت مراقبت کوي.

## د تقاطع د ځایونو رامنځته کول

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د اوسپنې پټلۍ اداره او د اوسپنې پټلۍ متصدي کولای شي د دولتي او نادولتي ادارو یا د خلکو د غوښتنې پربنسټ، په هغو سیمو کې چې د اوسپنې پټلۍ له هغه ځای څخه تېرېږي، دتقاطع ځایونه وټاکي او احداث کړي.

(۲) د اوسپنې پټلۍ اداره مکلفه ده، د اوسپنې پټلۍ د عمومي او خصوصي تقاطع د ځایونو مقررات وټاکي او د اوسپنې پټلۍ د مؤظفینو او متصدي او ګټه اخیستونکو په لاسرسي کې یې ورکړي.

(۳) که چېرې د اوسپنې پټلۍ متصدي، د اوسپنې پټلۍ مؤظفین او ګټه اخیستونکي، د تقاطع د سیمو مقرارت

ایجاد ورکشاپ های تخنیکی و ترمیماتی ثابت و سیار و مراکزعرضۀ خدمات اولیۀ صحی را تعیین و نحوۀ فعالیت آنها را وقتاً فوقتاً مراقبت می‌نماید.

## ایجاد محلات تقاطع

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) ادارۀ خط آهن و متصدی خط آهن می‌توانند به اساس تقاضای ادارات دولتی و غیر دولتی یا مردم، در مناطقی که خط آهن از آنجا عبور می نماید، محلات تقاطع را تعیین و احداث نمایند.

(۲) ادارۀ خط آهن مکلف است، مقررات محلات تقاطع عمومی و خصوصی خط آهن را تعیین نموده و به دسترس مؤظفین و متصدی خط آهن و استفاده کنندگان قرار دهد.

(۳) هرگاه متصدی خط آهن، مؤظفین و استفاده کنندگان خط آهن، مقررات محلات تقاطع را رعایت ننمایند، ادارۀ

رعایت نه کړي، د اوسپنې پټلۍ اداره مکلف ده، د تقاطع سیمې وتړي.

## د اختصاصي تقاطع د سیمو دروازه

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د اوسپنې پټلۍ اداره کولی شي، د دولتي یا غیر دولتي ادارو په غوښتنه د اوسپنې پټلۍ په تګلوري کې د اختصاصي تقاطع د سیمې دروازې وټاکي او احداث کړي.

(۲) که چېرې دولتي او غیر دولتي اداري د اختصاصي تقاطع د سیمې له دروازې څخه په غیر رسمي وختونو کې ګټه واخلي، مکلف دي د اوسپنې پټلۍ د ادارې لیکلې اجازه تر لاسه کړي.

(۳) د اوسپنې پټلۍ اداره او د اوسپنې پټلۍ متصدي کولی شي د دې مادې په (۱) فقره کې درج د تقاطع د سیمې له دروازو څخه وخت په وخت مراقبت وکړي.

(۴) د اختصاصي تقاطع د سیمې د دروازې د احداث غوښتونکې دولتي او

خط آهن مکلف است، محلات تقاطع را مسدود نماید.

## دروازۀ محلات تقاطع اختصاصی

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) ادارۀ خط آهن می‌تواند، به تقاضای ادارات دولتی یا غیردولتی دروازه های محل تقاطع اختصاصی را در مسیر خط آهن تعیین و احداث نماید.

(۲)هرگاه ادارات دولتی وغیردولتی از دروازۀ محل تقاطع اختصاصی در اوقات غیر رسمی استفاده کنند، مکلف اند اجازه کتبی ادارۀ خط آهن را حاصل نمایند.

(۳) ادارۀ خط آهن و متصدی خط آهن می‌توانند از دروازه های محل تقاطع مندرج فقرۀ (۱) این ماده وقتاً فوقتاً مراقبت نمایند.

(۴) ادارات دولتی و غیر دولتی متقاضی احداث دروازۀ محل تقاطع

غیر دولتي ادارې د هغې د لګښتونو په ورکړې مکلفې دي.

**د اوسپنې پټلۍ ترافیک**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د اوسپنې پټلۍ اداره مکلف ده، د اوسپنې پټلۍ د ښه او ډاډمن مراقبت په منظور، د اوسپنې پټلۍ ترافیک تنظیم کړي.

(۲) د اوسپنې پټلۍ اداره مکلفه ده، د اړوندو ادارو په همکارۍ د اوسپنې پټلۍ د ترافیکو لایحې او کړنلارې وضع او د اړوندو مسؤولینو په واک کې ورکړي او عامه خبرتیا ته یې هم ورسوي.

**د اوسپنې پټلۍ د کار کوونکو ښوونه**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د اوسپنې پټلۍ اداره مکلفه ده، د اوسپنې پټلۍ او د هغې د سیستمونو د ښو خدمتونو د وړاندې کولو په منظور، د هېواد په دننه او بهر کې د تخصصي او مسلکي کارکوونکو د ښوونې زمینه

اختصاصی، مکلف به پرداخت مصارف آن می‌باشند.

**ترافیک خط آهن**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) ادارۀ خط آهن مکلف است، به منظور مراقبت بهتر و مطمئن خط آهن، ترافیک خط آهن را تنظیم نماید.

(۲) ادارۀ خط آهن مکلف است، به همکاری ادارات ذیربط لوایح و طرزالعمل های ترافیک خط آهن را وضع و در اختیار مسؤولین مربوط قرار داده و به اطلاع عامه نیز برساند.

**آموزش کارکنان خط آهن**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) ادارۀ خط آهن مکلف است، به منظور عرضۀ خدمات بهتر خط آهن و سیستم های آن، زمینۀ آموزش کارکنان تخصصی و مسلکی را در داخل و خارج

برابره کړي.

(۲) د اوسپنې پټلۍ اداره کولی شي د لوړو زده کړو له وزارت او د اوسپنې پټلۍ له سیمه ییزو او بین المللي ټولنو سره په تفاهم کې د اوسپنې پټلۍ د کارکوونکو او د هغې د سیستمونو د ظرفیت د لوړولو په غرض د ملکي لوړو زده کړو د قانون له حکمونو سره سم، د اوسپنې پټلۍ انستیتوت رامنځته او تجهیز کړي.

(۳) د اوسپنې پټلۍ متصدي مکلف دی، د اوسپنې پټلۍ د ادارې په موافقه په خپل لګښت د اړوندو تخصصي او مسلکي کارکوونکو د ښوونې زمینه برابره کړي.

(۴) د اوسپنې پټلۍ د انستیتوت د فعالیت ډول، د استادانو او محصلینو د شمولیت شرطونه په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

کشور فراهم نماید.

(۲) ادارۀ خط آهن می‌تواند در تفاهم با وزارت تحصیلات عالی و اتحادیه های خط آهن منطقوی وبین المللی، انستیتوت خط آهن را غرض ارتقای ظرفیت کارکنان خط آهن و سیستم های آن طبق احکام قانون تحصیلات عالی ملکی ایجاد و تجهیز نماید.

(۳) متصدی خط آهن مکلف است، به موافقۀ ادارۀ خط آهن، زمینۀ آموزش کارکنان تخصصی و مسلکی مربوط را به مصرف خویش فراهم سازد.

(۴) نحوۀ فعالیت انستیتوت خط آهن، شرایط شمول استادان و محصلان در مقررۀ جداگانه تنظیم می گردد.

## ځلورم فصل
## مسلکي بورد

### د مسلکي بورد رامنځته کول

**اوولسمه ماده:**

د اوسپنې پټلۍ د ادارې د اجراآتـو او فعالیتونو د سمون او همغږۍ په منظور، مسلکي بورد چې له دې وروسته د بورد په نامه یادېږي، په لاندې ترکیب سره رامنځته کېږي:

۱- د اوسپنې پټلۍ د ادارې لوی رئیس د رئیس په توګه.

۲- د اوسپنې پـــټلۍ د دیـــزاین او ساختمان متخصص د غړي په توګه.

۳- د اوسپنې پټلۍ د ګټې اخیستنې او حفظ او مراقبت متخصص د غړي پـــه توګه.

۴- مالي متخصص د غړي په توګه.

۵- اقتصادي متخصص د غـــړي پـــه توګه.

٦- تدارکاتي متخصص د غـــړي پـــه توګه.

۷- حقوقي متخصص د غړي په توګه.

## فصل چهارم
## بورد مسلکی

### ایجاد بورد مسلکی

**مادۀ هفدهم:**

به منظور انســجام وهــم آهنگــی از اجراآت و فعالیت های اداره خط آهن، بورد مسلکی که منبعد بنام بورد یـــاد می شود، به ترکیـــب ذیـــل ایجـــاد می‌گردد:

۱- رئیس عمومی ادارۀ خط آهن بـــه حیث رئیس.

۲- متخصص دیـــزاین و ســـاختمان خط آهن به حیث عضو.

۳- متخصص بهره برداری و حفظ و مراقبـــت خـــط آهـــن بـــه حیـــث عضو.

۴- متخصص مالی به حیث عضو.

۵- متخصص اقتصـــادی بـــه حیـــث عضو.

٦- متخصص تدارکاتی بــــــه حیث عضو.

۷- متخصص حقوقی به حیث عضو.

۸– د بشري سرچینو متخصص د غړي په توګه.

۹– د ترانسپورت د چارو متخصص د غړي په توګه.

۱۰– د کرنیزو چارو متخصص د غړي په توګه.

۱۱– د کانونو د چارو متخصص د غړي په توګه.

۱۲– د صنعت او سوداګرۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

۱۳– د اوبو او انرژۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

۱۴– د کورنیو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

۱۵– د خصوصي سکتور استازی د غړي په توګه.

## د بورد دندې او واکونه

**اتلسمه ماده:**

(۱) بورد د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱– د قانون له حکمونو سره سم، د اوسپنې پټلۍ د احداث په منظور د پور د

۸– متخصص منابع بشری به حیث عضو.

۹– متخصص امور ترانسپورت به حیث عضو.

۱۰– متخصص امور زراعتی به حیث عضو.

۱۱– متخصص امور معادن به حیث عضو.

۱۲– نمایندهٔ وزارت صنعت و تجارت به حیث عضو.

۱۳– نمایندهٔ وزارت انرژی و آب به حیث عضو.

۱۴– نمایندهٔ وزارت امور داخله به حیث عضو.

۱۵– نمایندهٔ سکتور خصوصی به حیث عضو.

## وظایف و صلاحیت های بورد

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) بورد دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱– تصویب پیشنهاد اخذ قرضه به منظور احداث خط آهن، مطابق

اخیستلو د وړاندېز تصویبول.
۲- د اوسپنې پټلۍ په احـــداثولوکې د دولتي ادارو او د کورنیـــو او بهرنیـــو خصوصي متشبثینو د پانګونې جلبول.
۳- د مشارکت او پـــور د تګـــلارو د مدیریتي اوپرمختیایي برنامو تصویبول.
۴- د ټکټ او بارنامې د بڼې او محتوا منظوري او د مسافرت د ټکټ د بیې او د مالونو د کرایې ټاکنـــه او د هغـــوی تعدیل.
۵- د اوسپنې پټلۍ د ادارې د کلنـــۍ بودجې د لګښت د رپوټ بررسي.
٦- د دې قانون له حکمونو سره سم، د نورو دندو او واکونو تر سره کول.
(۲) د بورد د فعالیت ډول او په غونډو پورې اړوندې نورې چارې په هغه جلا کړنلاره کې چې د بورد له لوري وضع کېږي، تنظیمېږي.

احکام قانون.
۱- جلب ســـرمایه گـــذاری ادارات دولتی و متشبثین خصوصی داخلـــی و خارجی در احداث خط آهن.
۲- تصویب برنامه های مـــدیریتی و انکشافی شیوه های مشارکت و قرضه.
۴- منظـــوری شـــکل و محتـــوای تکت، بارنامه و تعیین قیمـــت تکـــت مسافرت و کـــرایهٔ امـــوال و تعدیل آنها.
۵- بررســـــی گزارش مصرف بودجهٔ سالانهٔ ادارهٔ خط آهن.
٦- انجام سایر وظایف و صلاحیت ها مطابق احکام این قانون.
(۲) طرز فعالیت و سایر امور مربوط به جلسات بورد در طرزالعمل جداگانـــهٔ که از طرف بورد وضع می‌شود، تنظیم می‌گردد.

## پنځم فصل

## د اوسپنې پټلۍ جواز لیک

### د جواز لیک غوښتنلیک

**نولسمه ماده:**

(۱) هغه حقیقي یا حکمي اشخاص چې د دې قانون له حکمونو او له منل شوو بین المللي معیارونو سره سم، د اوسپنې پټلۍ د ساختمان، ګټې اخیستنې او ساتنې او مراقبت یا د هغې د خدمتونو د وړاندې کولو مالي او تخنیکي ځواکمني ولري، کولی شي د جواز لیک د اخیستلو غوښتنلیک د اوسپنې پټلۍ ادارې ته وړاندې کړي.

